بسم الله الرحمن الرحیم

د افغانستان اسلامي امارت
د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت
مالي او اداري معینیت
د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست
د اطلاعاتو آمریت

(۵۰) ګڼه ورى ۱۴۰۳:شماره (۵۰) حمل ۱۴۰۳:صفحه اول:لومړی مخ



# اونيزه راستنېدنه عودت هفته نامه

دغه څوکۍ یو لوی مسؤولیت دی څوک چې په دې څوکۍ کار کوي، د اسلامي امارت د اصولو پر بنسټ آمر نه؛ بلکې یو خدمت ګار دی.
زه ژمنه کوم چې د خلکو، په تېره بیا د مهاجرینو خدمتګار پاتې شم او د دې وزارت د مسؤولینو او کارکوونکو په همکارۍ به خدمت ترسره کوم .
شهید الحاج خلیل الرحمن حقاني

## د کډوالو او راستنېدونکو چارو سرپرست وزیر محترم مولوي عبدالکبیر په کابل کې د قطر هېواد له شارژدافیر مُردف القاشوطي سره وکتل.

په دې ناسته کې چې له افغان کډوالو سره پر مرستو او همکاریو خبرې وشوې، ښاغلي القاشوطي له افغان کډوالو سره د قطر د مرستو د دوام ډاډ ورکړ او وې ویل، چې د افغانستان له ګاونډیو هېوادونو څخه په مناسب ډول د افغان کډوالو د راستنېدو په برخه کې د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو له عالي کمېشنرۍ سره په همکارۍ غور کوي.

نوموړي زیاته کړه، چې د افغانستان د کډوالو او راستنېدونکو چارو له وزارت سره یې کړې ژمنې عملي کړې او په راتلونکې کې یې د لاډېرو همکاریو یادونه وکړه.

هغه د خبرو پر دوام زیاته کړه، چې د قطر ولس او مرستندویه بنسټونه له افغانانو سره مرستو ته لېواله دي او له همدې امله د قطر د سرې میاشتې ټولنې او قطر الخیریه بنسټ په کابل کې فعالیت پیل کړی دی.

محترم مولوي عبدالکبیر په کابل کې د قطر د دولت شارژدافیر ته د ښه راغلاست پر مهال، له اسلامي امارت سره په بېلابېلو برخو کې د دغه هېواد له همکاریو او مثبتو اړیکو ستاینه وکړه.

محترم وزیر وویل، چې اسلامي امارت په دایمي ډول د کډوالۍ د ستونزې د حل هڅې کوي او زیاته یې کړه چې له مرستندویه او اړوندو ادارو سره کار کوي څو د افغان کډوالو ستونزو ته پر وخت رسېدونه وشي.

د ناستې پر دوام محترم مولوي عبدالکبیر یادونه وکړه، چې افغان حکومت د کډوالو لپاره د هېواد په کچه د ۴۶ استوګنیزو ښارګوټو د رغولو هوډ لري او په دې برخه کې یې د قطر په ګډون د مرستندویو بنسټونو د همکاریو غوښتنه وکړه .

د ناستې په پای کې محترم وزیر د افغان کډوالو د ستونزو د حل او همکاریو له امله د قطر هېواد له مرستو مننه وکړه.



### د کډوالو او بېرته راستنېدونکو چارو وزارت له لوري د کوچنې اختر د لمانځه مراسم ترسره شول



په دې مراسمو کې د کډوالو او بېرته راستنېدونکو چارو وزیر، محترم مولوي عبدالکبیر په ګډون د کابینې یو شمېر غړو، امارتي مسوولینو او په کابل کې مېشتو ډیپلوماتانو ګډون کړی و.

محترم مولوي عبدالکبیر راغلو مېلمنو ته ښه راغلاست ووایه او وې ویل چې کوچنی اختر د مسلمانانو لپاره د خوښۍ، یووالي او ثواب ځانګړې ورځ ده. هغه د افغان ولس د سولې، سوکالۍ او اقتصادي پیاوړتیا د دوام هیله څرګنده کړه او ټینګار یې وکړ چې د اسلامي امارت موخه دا ده چې هېواد د تلپاتې ثبات او پرمختګ لور ته بوځي.

نوموړي د مجاهدینو قربانۍ وستایلې او وې ویل چې د اسلامي نظام د بریا تر شا د شهیدانو وینې دي، نو ټول افغانان مسؤولیت لري چې د هغوی ارمانونه پوره کړي. هغه پر ولس غږ وکړ چې د اختر په مبارکو ورځو کې د غریبانو او ارمنو کورنیو پوښتنه وکړي، له هغوی سره مرسته وکړي او خپلې خوښۍ ورسره شریکې کړي.

محترم مولوي عبدالکبیر په خپلو خبرو کې وویل، چې اسلامي امارت د اقتصادي ودې او د پانګوالو د جذب لپاره اسانتیاوې برابرې کړې دي او د کانونو استخراج، د برېښنا بندونو، د لویو لارو جوړولو، د قوش تېپې کانال سترې پروژې پیل شوې دي او ډېر ژر به د افغانستان د رېل پټلۍ هم پراختیا ومومي چې د افغانستان اقتصادي پرمختګ ته به لاره هواره کړي چې کورني او بهرني پانګوال کولی شي په افغانستان کې پانګونه وکړي.

هغه وویل،چې اوس مهال په هېواد کې سرتاسري امنیت تامین دی، فساد له منځه تللی، نشه‌يي توکي منع شوي، او صنعتي ښارګوټي فعال شوي دي. ۱۰۱ د سیمې له هېوادونو سره اقتصادي او سوداګریزو همکاریو ته ژمن دی او د سیمه‌ییزو پروژو ملاتړ کوي.

د کډوالو او بېرته راستنېدونکو چارو وزیر له هغو هېوادونو مننه وکړه چې د افغان کډوالو کوربه‌توب یې کړی دی او هیله یې څرګنده کړه چې دغه هېوادونه به لا هم له زغم او صبر څخه کار واخلي او هلته مېشت افغانانو ته وخت ورکړي څو په خپله خوښه ډول خپل هېواد ته را وګرځي.

نوموړي د فلسطین پر مظلوم ولس د اسراییلي یرغلګرو ځواکونو بریدونه وغندل او له نړۍ‌والو یې وغوښتل چې د غزې د مسلمانانو ملاتړ وکړي.

محترم مولوي عبدالکبیر په پای کې د افغانستان ټول غیور ولس ته د کوچني اختر مبارکي وویله او د هېواد د تلپاتې سولې، ثبات او سوکالۍ دعا یې وکړه.

**د کډوالو او بېرته راستنېدونکو چارو وزیر مولوي عبد الکبیر د اختر په لومړۍ ورځ د امارتي مسئولینو او عامو افغانانو سره د اختر مبارکۍ په مناسبت وکتل**



راغلــو ګډونوالــو محتــرم مولــوي عبــد الکبیــر تــه د اختــر مبارکـي وویلـه او د هېـواد د روان امنیـت او ثبـات لـه امله یـې د اسـلامي امـارت لـه مشرتابـه مننـه وکـړه.

د راغلـو مسـئولینو او افغانانـو پـه وینـا، دوی خوشـحاله دي چـې پـه امـن او ثبـات کـې د اسـلامي نظـام تـر سـیوري لانـدې د اختـر خوښـي لمانځـي.

محتـرم مولـوي عبـد الکبیـر هـم ټولـو راغلـو مېلمنـو تـه د اختـر مبارکـي وویلـه او زیاتـه یـې کـړه چـې د اسـلامي امـارت د هڅـو لـه برکتـه اوس پـه هېـواد کـې سرتـاسري امنیـت تأمیـن شـوی، د فساد مخنیـوی شـوی او د نشـه یـي توکـو کچـه ډېـره راټیټـه شـوې ده.

نومـوړي لـه خلکـو وغوښـتل چـې د اختـر پـه ورځـو کـې لـه امنیتـي ځواکونـو سره همکار پاتـې شي، نظـم تـه پاملرنه وکـړي او د اختـر پـه خوښـیو کـې دې بې‌وزلـه هېـوادوال هـم شریـک کـړي.

**د کډوالو او بېرته راستنېدونکو چارو وزیر محترم مولوي عبدالکبیر د کوچني اختر په دویمه ورځ له ګڼو امارتي مسوولینو، قومي مشرانو او ځوانانو سره وکتل.**



پـه دې ناسـته کـې راغلـو مېلمنـو محـترم مولـوي عبدالکبیر تـه د کوچنـي اختـر مبارکـي وویلـه او د اسـلامي امـارت لـه مسـوولینو یـې مننـه وکـړه چـې د هېـواد د پرمختـګ او د هېوادوالـو د سـوکالۍ لپـاره هلې‌ځلـې کـوي.

هغـوی وویـل:د اسـلامي امـارت پـه راتـګ سره پـه هېـواد کـې امنیتـي وضعیـت د ډاډ وړ دی، اقتصـادي وضعیـت تـه پـه کتـو پـه هېـواد کـې پـر ګڼـو اقتصـادي پـروژو کار پیـل شـوی دی.

مېلمنــو وویــل:دا چــې افغانــان د روان کوچنــي اختــر خوشـحالۍ پـه ډاډه زړه سره لمانځـي، دا د امنیـت او ثبـات برکـت دی.

ورتـه مهـال د کډوالـو او بېرتـه راسـتنېدونکو چـارو وزیـر محـترم مولـوي عبدالکبیـر راغلـو مېلمنـو تـه د اختـر مبارکۍ تـر څنـګ هغـوی تـه ښـه راغلاسـت وواېـه او د دوی راتـګ یـې ارزښـتناک وبالـه.

نومـوړي زیاتـه کـړه چـې د اسـلامي امـارت موخـه د هېـواد پرمختـګ، د افغانانـو سـوکاله ژونـد او د ټولـو هېوادوالـو هوسـاینه ده.

**د کډوالو او راستنېدونکو چارو سرپرست وزیر محترم مولوي عبدالکبیر د کوچني اختر په درېیمه د کابـــینې له څو تنو غړو، ګڼ شمېر علماوو، قومي مخورو، مجاهدینو، او عامو هېوادوالو سره وکتل.**



راغلـو مشرانـو، قومـي مخـورو، علـمای کرامـو، مجاهدینـو او هېوادوالـو د هېـواد پـه کچـه د امـن پـه فضـا کـې د اختـر پـر نمانځلـو خوښـي څرګنـده کـړه او اوسـنی سرتـاسري امنیـت یـې د جهـاد او اسـلامي نظـام پایلـه وبللـه.

پـه دغـو ناسـتو کـې لـه ولایتونـو او لـرې پرتـو سـیمو څخـه راغلـو مخـورو او علـماو د اسـلامي امـارت پرمختګونـه وسـتایل او پـه هېـواد کـې یـې د امـن سـاتلو پـه برخـه کـې د امنیتـي ادارو لـه هڅـو مننـه وکـړه.

همدارنګـه د ناسـتو پـه لـړ کـې محـترم مولـوي عبدالکبیـر ټولـو راغلـو مشرانـو، علـماوو، قومـي مخـورو او مجاهدینو تـه د کوچنـي اختـر مبارکـي وویلـه او زیاتـه یـې کـړه، چـې اسـلامي امـارت د مسـوول نظـام پـه توګـه د افغانسـتان د روښـانه راتلونکـي لپـاره کار کـوي او پـه دې برخـه د ولسـونو همـکارۍ خـورا مهمـې او اغېزمنـې دي.

محـترم وزیـر زیاتـه کـړه، چـې پـه هېـواد کـې د سـتونزو حـل او پرمختګونـه د اسـلامي نظـام لـه برکتـه دي، امنیتـي اداري او مجاهدیـن د ټلپاتـې امـن لپـاره شـپه او ورځ د ولـس پـه همـکارۍ هڅـې کـوي.